دین نصیحت دی

د ابو رقیه تمیم بن أَوْسٍ الدَّارِيِّ رضي الله عنه نه روایت دی، چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "دین نصیحت دی" مونږ وویل: د چا لپاره؟ هغه وفرمایل: "د الله لپاره، د هغه د کتاب لپاره، د هغه د رسول لپاره، د مسلمانو چارواکو او د دوی عامو خلکو ته".

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

نبي صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې دین د اخلاص او رښتینولې پر بنسټ ولاړ دی، تر دې چې د الله له لورې لکه څنګه چې فرض شوی، په پوره ډول، بې له نیمګړتیا او دوکې کولو ادا شي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل شول چې: نصیحت چا ته وي؟ هغه وفرمایل: لومړی: نصیحت د الله سبحانه وتعالی لپاره، چې عمل ورته په اخلاص سره وکړو، شریک ورسره ونه نیسو، د هغه په ربوبیت، الوهیت، اسماء او صفاتو ایمان ولرو، د هغه امر لوی وبولو، او خلکو ته بلنه ورکړو چې ایمان پرې راوړي. دویم: د هغه د کتاب په اړه نصیحت چې قرآن کریم دی چې ایمان پرې ولرو او دا چې د الله جل جلاله کلام او د هغه وروستی کتاب دی، او دا چې دی د ټولو مخکښیو شریعتونو لپاره ناسخ دی، او درناوی یې وکړو، او په حقه یې تلاوت کړو، محکم حکمونه یې عملي کړو او په متشابهو آیتونو یې ایمان ولرو، د تحریف کوونکو تاویلات یې رد کړو، له وعظونو څخه یې عبرت واخلو، علوم یې خپاره کړو او خلکو ته یې (د منلو) بلنه ورکړو. دریم: زمونږ د رسول محمد صلی الله علیه وسلم په اړه نصیحت چې عقیده ولرو هغه د ټولو رسولانو وروستی دی او په هغه څه کې یې ریښتونی وګڼو چې مونږ ته یې راوړي دي، امر یې عملي کړو او له هغه څه نه منع شو چې هغه ترې منع کړي ده، او دا چې د الله تعالی عبادت ونه کړو مګر په هغه طریقه چې هغه راوړې ده، حق یې لوی وګڼو، درناوی یې وکړو، بلنه یې خپره کړو، شریعت یې خپور کړو او د تورونو او تهمتونو پر وړاندې یې دفاع وکړو. څلورم: د مسلمانانو امامانو (واکمنانو) لپاره نصیحت چې په حق کې یې ملاتړ وشي، د واک پر سر ورسره شخړه ونه شي او دا چې د الله تعالی د اطاعت په چوکاټ کې یې اطاعت وشي او غوږ ورته ونیول شي. پنځم: د مسلمانانو لپاره نصیحت چې نیکي ورسره وشي او بلنه ورکړل شي، د ضرر مخنیوی ترې وشي او هغوی ته ښېګڼه رسول ښه وګڼل شي او په نیکې او تقوا کې ورسره مرسته کول.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66516